# د اچ ای وي او ایډز د کنټرول د ملي پروګرام په اړه معلوماتي پاڼه

## د ایډز د کنټرول د ملي پروګرام لرلید:

په هیواد کښې د اچ ای وي د خپریدو او لدی امله د مړیني د کچې راټیټول او د اچ آی وي او ایډز سره د تړلی کرکي او تبعیض کمول.

## د ایــډز د کنټــرول د ملــي پروګــرام ماموریت:

پـه هیـواد کښې د اچ ای وي او ایـډز د مثبتو پیښو د خپورتیا د کچې ټیټ ساتل

## د ایډز د کنټرول د ملي پروګرام موخه



د ایاز د نړیوالیګ ورځې ځګځه لمانځګنه، د 1387 هجري لمریز کال

د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال د مرغومي تر میاشتی (د ۲۰۱۰ زیږدیز کال تر پایـه)، د عـامو وګړو تـر منځ د اچ ای وي او ایـډز د خپورتیا د کچې ټیټ ساتل(<0.5%) تر څو د اچ ای وي او ایډز سره تړلی مړینه او رنځورتیا راټیټه شي.

## د ایډز د  کنټرول د ملي پروګرام مقصدونه

**لـومړي مقصد:** د پالیسي د جوړولو، د اچ ای وي او ایـډز اړونـده پروګرامونـو د پـلان او پلـی کولـو پـه موخـه د ستراتیژیکو معلوماتو پیاوړي کول.

**دوهم مقصد :** د اچ ای وي او ایډز د ملي ستراتیژي د پلي کولو لپاره د سیاسي ژمنو تر لاسه کول او په دی اړوند د مالی سرچینو راجلبول.

**دریم مقصد:** د اچ ای وي او ایډز پر وړاندی د یو واحد ځواب ویلو په موخه د بیلابیلو سکټورونو تر منځ د همغږي رامنځته کول او د بنکیلو سکټورونو د کاري ظرفیتونو لوړوالي.

**څلورم مقصد:** د اچ ای وي او ایډز او د مقاربتي نـاروغیو د مخنیوي او کنټرول په اړونـد د عامه وګړو د پوهي د کچي لوړول او ټولو تـه د اچ ای وي او ایډز د سلوکي تغیر لپاره د معلومـاتو برابـرول، پـه ځـانګړي توګـه د هغو ګروپونو لپاره چې د لوړ خطر سره مخامخ دي لکه زرقي معتادین او د زیان منونکو ګروپونو لکـه د بـی ځایـه شوو وګړو لپاره.

**پنځم مقصد:** د هغو ګروپونو لپاره چې د لوړ خطر سره مخامخ دي او د زیـان منونکو ګروپونو لپاره د مخنیوي، درملني او مرستندویه خدمتونو برابرول.

**شپږم مقصد:** د روغتيا د سکتور د ظرفيت لوړول تر څو دا سکتور وکولای شي د اچ ای وي او ايډز د خدمتونو اساسي مجموعه يا EPHA د روغتيايي خدمتونو د اساسي مجموعي يا BPHS او د روغتون د خدمتونو د اساسي مجموعي يا EPHS په چوکاټ کښې پلې کړي.

## اچ ای وي او ايډز په افغانستان کښې او د اچ ای وي او ايډز د کنټرول ملي پروګرام

افغانستان د اچ ای وي د اپيډيمي د لوړ خطر سره مخ دی. که څه هم اوس مهال افغانستان کښې د اچ ای وي د خپورتيا کچه له نيکه مرغه ټيټه ده خو د بيلابيلو دليلونو له کبله لکه د نږدی ۳ لسيزو پر له پسې وسله واله جګړو، بهر ته او د ننه د بی شميره خلکو بې ځايه کيدل، کمزوری اقتصاد او د نشه يی توکو کر کيله او قاچاق، په زرقي ډول د نشه يي توکو استعمال او د وينې د راکړی ورکړی او د ستنې وهلو خونديتوب ته په پوره توګه نه پاملرنه، زمونږ هيواد د اچ ای وي د خپريدو د لوړ ګواښ سره مخ کړي. د دی ننګونو سره د مبارزې لپاره، د ايډز د کنټرول ملي پروګرام په ۱۳۸۲ هجري لمريز کال کښې د عامې روغتيا وزارت په چوکاټ کښې جوړ شو. د عامې روغتيا وزارت او د ايډز د کنټرول ملی پروګرام د يوی هر اړخيزی تګلاری او د اړونده مراجعو او پرمختيايی ادارو په سلا مشوره کښې د اچ ای وي او ايډز ملي ستراتيژيک چوکاټ (۲۰۰۶-۲۰۱۰ زيږديز کال) د افغانستان د يو پراخ لرليد او د ستراتيژيکي موخي په توګه طرح کړ تر څو د اچ ای وي او ايډز اغيزي زمونږ په هيواد کښی راټيټی کړي. په ۱۳۸۶ هجری لمريز کال کښی د نوموړي ستراتيژيک چوکاټ د پلي کولو لپاره د پروګرام عملياتي پلان طرح شو. د ايډز د کنټرول ملي پروګرام خپلې ټولې چارې او پروژې د نوموړي چوکاټ په دننه کښی تنظيموي.



په کابل کښې د خپلې خوښې د مشورې او ازمايلو مرکز

د جوړښت څخه تر اوس مهاله د 7 کلونو په موده کښی د ايډز د کنټرول ملي پروګرام په تدريجي توګه خپلو فعاليتونو ته د کيفيت او کميت له پلوه پراخوالی ورکړی دی. د ايډز د کنټرول د ملي پروګرام اساسي تمويل کوونکي عبارت دي له نړيوال بانک (World Bank)، نړيوال مالي صندوق (Global Fund) او د متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايی اداره يا (USAID). نوری مرستندويه اداری عبارت دي له: UNODC، UNICEF، WHO، UNFPA، UNHCR، WFP او داسې نور کورنی او بهرنی مرستندويه اداري. اوس مهال د ايډز د کنټرول ملي پروګرام په ټول هيواد کښی د ملي او نړيواله موسسو سره د ۲۸ قراردادونو له لاری په ۸ ولايتونو لکه د کابل، هرات، کندز، بلخ، کندهار، غزني، بدخشان، او ننګرهار کښی خدمتونه وړاندی کوي. ۸ د خپلی خوښی د مشوری او آزمايلو مرکزونه يا VCCT، ۱۵ د لومړی کچی خدمتونو د برابرولو مرکزونه يا Drop-in-centers، او ۲ د اچ ای وي او ايډز د درملني مرکزونه يا ART په فعاله توګه اړوند کسانو ته خدمتونه وړاندی کوي. تر اوس مهاله، د ۵۵۶ اچ ای وي مثبتو پيښو رپوټ د بيلابيلو سرچينو له لاری ورکړ شوی او ۷ کسانو د ايډز له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

## د ايډز د کنټرول د ملي پروګرام اساسي لاسته راوړني د ۱۳۸۷ او ۱۳۸۸ هجري لمريز کلونو په ترځ کښی

**در پلوي غوښتنې او اړيکو په برخه کښی:**

- ❖ د ايډز د کنټرول د ملي پروګرام لپاره د پلوي غوښتنې په موخه د يو لړ حکومتي لوړ پوړو چارواکو سره غونډی وشوی.
- ❖ د اوپيوييد بدليزی درملنې يا Opioid Substitution Therapy (OST) پاليسي طرح شوه او د عامې روغتيا وزارت د روغتيا او تغذيې د مشورتي ګروپ د تاييد وړ وګرځيده.
- ❖ د افغانستان د اچ ای وي او ايډز د همغږي کولو د کميټې غونډې د اچ ای وي او ايډز په وړاندی د بيلابيلو سکټورونو او اړونده مراجعو تر منځ د همغږي د رامنځته کولو په موخه تر سره شوی.
- ❖ د ۱۳۸۸ کال لپاره د رسنيو جايزه اعلان شوه. دا جايزه به هغه رسنيو ته ورکول کيږي چې د اچ آی وي او ايډز په اړه د خلکو د پوهی د کچې په لوړولو کښی ډير فعاليتونه تر سره کوي.

- د ۱۳۸۷ کال د ایډز نړیواله ورځ ونمانځل شوه.
- د ایډز د نړیوالی ورځې په اړوند یو ګردې میز د اچ ای وي په هکله د بحث لپاره ترتیب او د تلویزیون له لاری خپور شو.
- ټلویزیوني او راډیویي لنډی ډرامی جوړی او د بیلابیلو ټلویزیونونو له لاری نشر شوی.
- د ایډز په ملي پروګرام کښی د ټولو ښکیلو مراجعو آدرس پاڼه جوړه شوه.
- ۲۲۰۰ معلوماتي پاڼي، ۳۸۰ پوسترونه، د فیتو په بڼه ۵۰۰ د اچ، ای، وي سره رنګ لرونکي نښانونه او داچ ای وي او دغه راز ایډز سره تړلی د کرکې او تبعیض د کمښت لپاره پیغامونه خپاره شول.



د اچ ای وي او ایاز په اوه روزنیز پروګرام

- د رسنیو څار: د افغانستان په رسنیو کښی د اچ ای وي او ایډز د انعکاس د څرنګوالي د معلومولو په موخه د رسنیو د څار یوه پروسه پیل شوه.
- ۶۰۰ تنه د بیلابیلو خبري آژانسونو د ارتباط مسولین (ژورنالیستان) د اچ آی وي په اړه وروزل شول.
- د روزونکو د روزلو پروګرام د زیانونو د کمښت د پروژو د پلي کوونکو او اړونده وزارتونو لپاره وړاندی شو.

## د اچ ای وي د سرویلانس او د نظارت او ارزیابي د ملي سیستم د پیاوړي کولو په برخه کښي

- د هغو معتادینو چی د پیچکاریو له لاری نشه یي توکي استعمالوي، د باروړونکو د ډریورانو، د محبوسینو، او د نورو ګروپونو چی د لوړ خطر سره مخ دي، توحیدي سلوکي او بیولوژیکي سرویلانس یا IBBS تر سره شو.
- د اچ ای وي او ایډز په اړه د نظر د خاوندانو د پوهی د کچی، سلوک او د کړنو (KAP) د معلومولو لپاره یوه مطالعه تر سره شوه.
- بیلابیلي فورمي د زیانونو د کمښت او د ویني د آزمایلو او د سلا مشورې د ورکولو په اړه طرح شول او پدی اړه معلوماتي ورکشاپونه پلي کوونکو موسسو او د خپلی خوښی د مشوری او آزمایلو مرکزونو کارکوونکو ته وړاندی شول.
- د نظارت لپاره یوه فورمه طرح او په ساحه کښي و آزمایل شو.
- د ۳سروی ګانو کار پیل شو چی پدی کښی په ۸ ولایتونو کښی د ویني د خوندیتوب سروی، په ټول هیواد کښی د ایډز سره په تړاو کښي د خطر درلودونکو سلوکونو سروی او د راستنیدونکو تر منځ د اچ آی وي او ایډز د خطر سروی شاملي دي.

## د خطر لرونکو سلوکونو لپاره ځانګړي اقدامات

- د خطر لرونکو سلوکونو لکه د نشه یي توکو زرقي استعمال د زیانونو د کمښت لپاره د ځانګړو اقداماتو د پلي کولو ۷ قراردادونه غیر دولتي موسسو سره لاسیک شول
- ۱۳۳۹۵۲ پیچکاری هغه کسانو ته چی د پیچکاریو له لاري نشه یي توکي استعمالوي وویشل شوی چی لدی څخه ۱۰۶۴۵۲ پیچکاری د ګرځنده ټیمونو له خوا ویشل شوي
- د ۱۴۲۷ نارینه او ۸ ښځینه زرقی معتادینو ته او ۲۹۱۴ تنه معتادینو ته د لومړي کچې خدمتونو د مرکزونو او د ګرځنده ټیمونو له خوا خدمتونه وړاندی شوي.
- د نشه یی توکو څخه د ډدی او د اچ ای وي په اړوند ۱۶۹۵۵ تنو ته په وګړنیزه توګه او ۲۷۰۰۱ تنو ته په ډله ییزه توګه سلا مشوری ورکړل شوي. پدی سربیره، په نشه يي توکو د روږدو کسانو د کورنیو ۱۶۱۸ غړو ته سلا مشوری ورکړل شوي
- د میتادون درمل د واردولو جوازپانه په افغانستان کښی د لومړي ځل لپاره یوی غیر دولتي موسسی ته ورکړل شوه

- د ټرانسپورټ د سکټور لپاره یو ملی ورکشاپ دایر شو.
- ۲۰۰۰۰ د وینې د آزمایلو کیټونه د وینې مرکزي بانک ته د ایډز د ملي پروګرام له خوا ورکول شول.

## د پروګرام اداره او منجمنټ او د کاري ظرفیتونو د لوړولو په برخه کښې

- د عامې روغتیا وزارت د ام ډی ام (MDM) غیر دولتي موسسې سره د خطر لرونکو سلوکونو د زیانونو د کمښت د زده کړې مرکز د پرانیستلو په اړه تفاهم پاڼه لاسلیک کړه.
- د بیلابیلو ادارو څخه شاوخوا ۱۰۰۰ تنه د اچ ای وي او ایډز په اړه وروزل شول
- بیلابیل لارښودونه لکه د خطر لرونکو سلوکونو د زیانونو د کمښت لارښود، د توبرکلوز او د اچ ای وي ګډ لارښود، د ریټرو ویروسونو د درملنې لارښود، د جنسي اړیکو له امله د پیدا کیدونکو مکروبونو په اړه لارښود، د اوپیویید د بدلیزي درملنې لارښود او د اچ ای وي د آزمایلو لارښود، ترتیب شوي
- د کمپیوټر د اکسل دیټابیز د ملی پروګرام د منجمنټ لپاره طرح شو.

## د افغانستان د اچ آی وي او ایډز د همغږي کولو کمیټه

د عامې روغتیا وزارت په ۱۳۸۶ هجري لمریز کال کښې د اچ ای وي او ایډز د همغږي کولو کمیټه چې د بیلابیلو سکټورونو څخه جوړه شوې منځته راوړه تر څو د اچ ای وي او ایډز پر وړاندې د ځواب ویلو کوښښونه همغږي او د افغانستان د دولت، د دولتي او غیر دولتي موسسو، مدني ټولني او نړیوالو مرستندویانو تر منځ هر اړخیزه همکاري منځته راشي.



د اچ ای وي او ایاز د همغاږي د کمیټګیګ غونأه

د اچ ای وي او ایډز د فعالیتونو د لا همغږي کولو او د دی کمیټې د کړنو د لا پیاوړي کولو په موخه د دی کمیټې دارالانشا هم جوړه شوه. دارالانشا به د اچ آی وي او ایډز د پالیسي او ستراتیژي د همغږي کولو او لا پیاوړي کولو په برخه کښې کار وکړي او د اړونده ادارو تر منځ د اغیزناکه اړیکو د ټینګولو له لارې به د دی کمیټې چارو کښې شه والی راولي.

## راتلونکي پلانونه:

- د نوو پالیسیو طرح او پلي کول لکه د اچ آی وي او ایډز ملي پالیسي او د عدلیه، کورنیو چارو او د معارف وزارتونو لپاره د سکټوري پالیسیو طرح کول.
- د اوپیویید د بدلیزي درملني یا (OST) د پالیسي پلي کول او په افغانستان کښې د میتادون د درملني پیل کول
- د عامه پوهاوي لپاره په ملي کچه د فعالیتونو دوام او پراخولي.
- د اچ ای وي او ایډز د پروګرامونو لپاره د بیلابیلو مراجعو پلوي غوښتنه او د اړونده ادارو تر منځ د همغږي کولو د فعالیتونو پراخول.
- د ایډز د کنټرول د ملي پروګرام د اداري او کاري ظرفیتونو د لوړولو په برخه کښې د فعالیتونو دوام او پراخول
- د نظارت او ارزیابي او د سرویلانس د ملی سیسټم د پیاوړي کولو لپاره د فعالیتونو پراخول
- د غیر دولتي پلي کوونکو موسسو له خوا لاری د خدمتونو د عرضې د کیفیت د لوړولو لپاره د فعالیتونو پراخول

## ننګوني

- په افغانستان کښې د اچ ای وي او ایډز په اړه د کړکي او تبعیض شتون.
- څرنګه چې د اچ ای وي او ایډز د پروګرامونو پلي کول په افغانستان کښې یوه نوی تجربه ده نو د پلي کولو په برخه کښې لا تر اوسه په پوره ډول کاري ظرفیت وده نده کړې
- د اچ آی وي او ایډز په اړه د ټولني په بیلابیلو برخو کښې د پوهې د کچې ټیټوالي